# توده بړستن




لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر

بخلیه : [illegible] / کال [illegible]

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیکي پوهه:

**سرلیک:** **توده بړستن**

**لیکوال:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**اېډېټور:**

**د پښتنۍ ډیزان:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** میاشت - زمری / کال ۱۴۰۵

**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

**برېښنالیک:**

atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ
ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

پخښتنی........................................................................ ۱
بسم الله الرحمن الرحیم ...................................................... ۲
لیکي پوهه:................................................................. ۳
لړلیک ....................................................................... ٤
تراڼ (پیل، شروع، برید).................................................... ٥
د یادښتونو له پاره:........................................................... ۷
ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان) ............................................ ۸
د چاپ شویو کتابونو لیست.................................................. ٥۹
د کار لاندې کتابونو لیست ................................................ ٦۳
د امکان او وخت په صورت کې.......................................... ٦٤
د پخښتنی څټ ................................................................ ٦٥

(c) ketabton.com: The Digital Library

توده برستن
.................

## تراڼ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د تولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل یوه بل حقیقي داستان یا ناول چې کیسه یې په هېواد کې د ننه، د بادپښ ولسوالۍ، لغمان ولایت کې پیل شوې او بیا وروسته د ګاونډ هېواد (پاکستان) ته غزېدلې ده، د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره ګډه (شریکه) کړم.

زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مینه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تو ده برسېتن
.................

**پاکه ربه!**
زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې وپېژنو. زموږ سره مرسته وکړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دين له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**يادونې:**

- پښتنې انځور د ناانډولې (داستان، ناول) د متن په پام کې نيولو سره، ګوګل سايټ نه، اخيستل شوی او په پښتنې کې ځای پر ځای شوی دی.
- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هيله کيږي چې، خپلې غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بيا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شريکه) کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

توده برسټن

.................

## د یادښتونو له پاره:

۱- ................................................................................

۲- ................................................................................

۳- ................................................................................

۴- ................................................................................

۵- ................................................................................

۶- ................................................................................

۷- ................................................................................

۸- ................................................................................

۹- ................................................................................

۱۰- ..............................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان)**

شینګل اکا، پخوا د لغمان ولایت په قرغه یو ولسوالۍ، کوز کلي کې چې اوس د باد پښ ولسوالۍ پورې اړه لري، په یوه کوشني او پردي کور کې، چې پلار یې الته مزدوري (غریبي) کوه، سترګې دې نړۍ ته، خلاصې کړې.

د پیدایښت وخت یې ماسپښین او د جمعې مبارکه ورځ وه.

یوه ورځ، تېرې شوې وه.

ښځې یې خپل خاوند ته، و ویل:

په الک به، څه نوم کېږدو؟

هغه و ویل:

ښه به دا وي چې هغه د ماسپښین لمانځه نه وروسته، د کلي جومات ته یوسم او ملا صیب ته به و وایم چې، د هغه په غوږ کې اذان وکړي او پرهغه ښکلی نوم د اسلام دین اصلو سره سم، کېږدي.

غرمه وه.

ګاونډیانو ورته څه شنه تازه وطني سابه، سره د تودو جواریو راوړل، او د شین ګل اکا د ښځې مخې ته یې، کېښودل.

هغوی ببرته، خپلو دندو پسې لاړل.

شین ګل اکا لېرې ناست و او ځان یې په ښلېدلی(شکېدلي) پټو کې، تاو کړی، و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توده برستن

.................

خو، خپله نوې برستن يې، پر خپلې ښځې اچولې وه.

هغه دوې كاسې او كاچوغه راواخيسته، سابه يې په كاسو كې و وېشل.

بيا يې تود جوارې خپلې ښځې ته، نږدې كړ.

ځو مړۍ يې نه وې تېرې كړې چې د شين ګل اكا په ستونې كې، جوارۍ ونښت او پر توخې يې پيل كړ.

ښځې يې و ويل:

په دې وخت كې، چا ياد كړې.

اله!

ژر شه!

لږ نږدې او شا دې ما ته، واړوه.

هغه هم نږدې شو.

خپلې ښځې مخ ته، كښېناست.

شا يې، خپلې ښځې ته، واړوه.

هغې څو ډبه، په شا كې و واهه.

توخې يې، بند شو.

بيا يې هغه ته، و ويل:

جام واخله!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توده برسټن

.................

د منګي نه، اوبه په کې واچوه.

لمړی يې ته و څښنه او بيا يې ډک، کړه.

په جام کې اوبه ما ته هم، راوړه.

هغه هم د خپلې ښځې خبره ومنه او د ځايه پاڅېد (اوچت شو).

اخوا دېخوا يې، و کتل.

جام يې تر سترګو شو.

هغه يې د ځمکې نه راپورته او د کوټې، و وت.

د کوټې تر څنګ يې يوه ښکلې ځای و چې دوې خوا کې يې د نيمو خامو خښتو دېوالونه، څټ (شا) يې د کوټې دېوال ته جوښت او مخه يې، خلاصه وه.

د دېوالونو او چت والی يې ۹۰ سانتی، سور(بر) يې ۹۰ سانتی او اوږوالی يې هم په پورتنيو، اندازو و.

الته په کې، څو د اوبو منګي، ځاېدل.

منګي هم ډېر زاړه او هغه ته د نيکه نه، په ميراث پاتې شوي وو.

منګويو ښکلي سر پوښونه، درلودل.

د منګيو په غاړو کې ښکلي غړوندی او ځينو ځايونو کې يې، د ډبرو غمي هم، ليدل کېده.

دا منګي د لوخو په منجمو باندې اېښودل شوې وو، تر څو د کار اخيستنې په و خت کې، چپه نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توده برسېتن

.................

شینګل اکا د منګیو ځای ته، نږدې شو.

د یوه منګي پوښ یې لرې او جام یې ورته، نږدې کړ.

منګی یې کوږ او د اوبو نه یې، ډک کړ.

هغه ډېر تږی شوی هم، وو.

لږ لرې شو او په ځمکه یې سپلت (څپلت) و واهه.

جام یې پر سر را واړاوه او د اوبو په ښښلو یې پیل کړ.

اوبه، سړې وې.

هغه په مزه، مزه اوبه یې، وښښلې.

بیا یې و ویل:

شکر، خدایه.

په دې نړۍ کې، هر څه، ستا نعمت دي.

څوک ژر او څوک پرې، وروسته پوهیږي.

بیا منګي ته نږدې او جام یې د اوبو نه، ډک کړ.

جام یې خوا ته، کېښود.

د منګی سر یې بند کړ.

جام یې واخیست او کوټې ته، د ننه شو.

جام یې د بنځې خوا ته، کېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توده بړستن

.................

هغه هم ډېره تږې شوې، وه.

جام يې پر سر راواړاوه او ټولې اوبه يې، و څښلې.

هغې هم د اوبو د څښلو نه، شکر و وايه.

جام يې تر خوا کېښود.

بيا يې خپل مېړه ته و ويل:

چايجوش له اوبو ډک او پر نغري يې، کېږده.

چای دم کړه.

شينګل و ويل:

سمه ده.

د کوټې تر څنګ يې، يوه څېره وه.

د څېرې لاندې په يوه کنج کې، يوه د ختو نغرى و.

تر څنګ يې څه وچ لرګي، هم وو.

کوم چې شينګل اکا د پخوا نه، مات کړې وو.

هغه، څه لرګي په نغري کې، کېښودل.

تر لاندې يې، څو د سنډ (څنډ) لرګي، کېښودل.

بيا يې د نغري د سر نه اور لګيد (اور کوتۍ) چې په کوشنۍ تاخچې (طاقچې) کې وه، را واخيست او اور يې، بل کړ.

تور چايجوش يې د نغري پر سر، کېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توده برستن

.................

اوبه، په توديدو شوې.

لږ ځنډ وروسته، اوبه په خوټېدو، شوې.

بيا هغه اور، مړ(بند) کړ.

کوشنى سپين چايجوش کې يې وچ چاى واچوه او جوشې شوې اوبه يې په کې واچوې.

څو د کيکې يې چايجوش د نغري خوا ته، کېښود.

چاى، ښه دم واخيست.

بيا يې چايجوش اوچت کړ.

کوټې خوا ته، روان شو.

چايجوش يې د ځان سره، د ننه کړ.

چايجوش يې د نيمځي څنډې ته کېښود.

د تاخچې يې دوې پيالې واخيستې او د کوټې نه د باندې شو.

د منګيو ځاى ته لاړ او د يوه منګې يې اوبه واخيستې او پيا لې يې پرې کنګال، کړې.

بيا يې پيالې کوټې ته، د ننه کړې.

په پيالو کې يې، چاى واچوه.

يوه يې خپلې ښځې او بله يې ځان ته، کېښوده.

بيا يې تاخچې ته، و کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توده ږستن

.................

تر سترګو يې يوه کڅوړه، شوه.

له ځايه پاڅېد.

تاخچې ته، نږدې شو.

کڅوړه يې، خلاصه کړه.

يوه چکۍ ګوړه (ګړه) يې د کڅوړې نه و باسه او د کڅوړې خوله يې بېرته بنده کړه، تر څو موږکان په کې، و نه ګرځي.

بيا يې ګوړه پر زاړه دسترخوان کېښوده او د ګوړې ماتولو توره تيګه يې واخيسته او څو ګذارونه (ډبونه) يې ګوړې ته، ورکړل.

ګوړه ماته (ټوټې، ټوې) شوه.

ګوړه يې په يوه غاب کې کېښوده او خپلې بسځې ته يې نږدې کړه.

يوه غټه ټوټه يې ځان ته هم واخيسته.

هغه يې په خپل کيڼ لاس کې و نيوه او پر ښي لاس يې د چاى پياله، را پورته او د چاى په ښنلو يې پيل کړ.

دواړو چاى، په مزه، مزه وښنل.

غرمه تېره شوه.

ماسپښنين او د ماسپښنين د لمانځه وخت، ورسېد.

شين ګل اکا د کور نه، اوداسه په نيت، روان شو.

پر پټو(څمکو) وګرځېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توده بړستن

.................

بیا رواني بیالې (ویالې)  ته نږدې او پر اودس یې پیل کړ.

اودس نه وروسته یې خپل مخ او لاسونه پرخپل زاړه پټو وچ کړل او جومات خوا ته، روان شو.

بیا یې لمونځ په جمع ادا کړ.

لمانځنه وروسته، هر کس (څوک) خپلو موخو پسې، روان شوو.

شین ګل اکا د لمانځه د ادا کولو نه وروسته، د جومات ملا امام ته نږدې او هغه ته یې ورو، و یل:

ملا صیب!

غواړم زما د زوی په غوږ کې آذان او ښکلی نوم پرې کېږدې.

ملا و ویل:

سمه ده!

اوس ښه وخت دی.

اوا (هوا) هم سړه، نه ده.

هغه، راوړه!

شین اکا، خوشحاله شو اومخ پر کور یې، حرکت وکړ.

کورته، د ننه شو.

ښځې یې و پوښتل:

ملا صیب ته دې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و ويل:

هو!

بيا يې و پوښتل:

هغه څه و ويل؟

شين ګل ځواب، ورکړ.

ملاصيب و ويل:

اوا (هوا) ښه ده.

کور ته، لاړ شه!

ماشوم په کوم لوی ټادر کې تاو کړه.

بيا يې دلته د جومات وجرې (حجرې، کوټې) ته راوړه.

ښځې يې، و ويل:

سمه ده!

ماشوم، په خپل پټو کې تاو کړه.

شين ګل و ويل:

زما پټو ډېر زوړ او څو ځايه شلېدلی دی.

ښه به وي چه هغه په يوې برېستنې کې تاو او د جومات وجرې ته يې، يو سم.

ښځې يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توده بړستن

.................

مونږ خو د ماشوم له پاره، کومه بړستن هم، نه ده جوړه کړې.

شین ګل په خندا، شو.

و یې ویل:

یوه کوشنۍ، بړستنه شته.

هغه ډېره توده، ده.

په هغې کې پاو کم، نیم من مالوچ په کې ځای پر ځای شوی دی.

هغه ما ته، د پلارونو نه، پاتې ده.

زما مور دې، خدای وبخښي.

کله چې زه کوشنی وم او زما به یخ (یخني) کېده، هغې به ویل:

خوا ته مې، کښېنه!

بیا به یې کوشنۍ بړستن راواخیسته او پر ما به یې واچوه.

هغې به، ویل:

دا، دی!

توده بړستن مې دربانديې، واچوه.

اوس به تود او ښه خوب، وکړې.

په ریښتیا هم، هغه بړستن توده وه، پر ما به، خوب راغی او بیده به، شوم.

بړستن هم، ښکلې، ښکارېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توده بړستن

.................

هغې مخه او شا يې د تودو رنګونو ټوکر(رخت) نه جوړه شوې، وه.

زما مور به هغه، ښه ساته.

هغې به ویل:

دا ښکلې بړستن ده او غوړام دا بړستن خپلو لمسیانو ته هم، وساتم.

هغې هم، پورتنی کار، وکړ.

شین ګل بړستن واخیسته او ماشوم يې په تودې بړستنې کې تاو کړ.

مخ يې ورته، لوخ پرېښود، تر څو اوا واخلي (تنفس وکړي).

د بسم الله په ویلو سره يې، ماشوم په غېږ کې ونیو او د کور نه، د باندې (و وت) شو.

ورو، ورو د جومات پر مخ، روان شو.

څو دکیکې وروسته جومات وجرې ته، ورسېد.

د جومات ملا امام هم د دروازې تر څنګ و لاړ و او د شین ګل، انتظار يې کاوه.

شین ګل وجرې ته، ورسېد.

ملا ته يې، سلام ورکړ.

ملا هم د هغه سلام ته، وعلیکم و ویل.

بیا يې د وجرې دروازه خلاصه او دواړه، وجرې ته، د ننه شوو.

ملا، شین ګل ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توده برستن

.................

پر توشکي کښېنه!

هغه پر توشکي کښېناست.

ملا، هغه ته و ويل:

بالښت دې هم څټ (شا) ته کېږده.

شين هم د ملا په وينا، پر توشکي کښېناست او بالښت يې څټ (شا) ته، کېښود.

بيا يې هغه ته، و ويل:

ماشوم، ما ته راکړه.

شين ګل، ماشوم ملا ته ورکړ.

هغه ماشوم په غېږ کې ونيو او ويې ويل:

ما شا الله!

څومره ښه او ګلالی ماشوم دی.

بيا يې د هغه په غوږونو کې، اذان ورکړ.

وروسته يې ماشوم، بېرته، هغه ته، ورکړ او ويې ويل:

ماشوم په کومه ورځ زېږېدلی دی؟

شين ګل و ويل:

پرون!

یانې د جمعې په ورځ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توده برستن

.................

ملا بیا وپوښتل:

کوم نوم خو تاسو ورته غوره کړی، نه دی؟

شین ګل و ویل:

نه!

تر اوسه مونږ هغه ته کوم نوم نه دی ټاکلی.

د هغه د نوم ټاکنه مو، تا ته پرېښې ده.

هغه و ویل:

زما د خوا د هغه نوم جمعه الدین شو.

شین ګل په خندا او ویې ویل:

سمه ده!

زه، خوشحاله یم.

بیا ملا دوعا وکړه او د خدای نه یې وغوښتل چې هغه سوچه مسلمان او نېک صالح، لوی د مور او پلار دمه، پرې جوړه کړي.

بیا یې آمین و ویل.

شین ګل هم آمین و ویل.

ملا شین ګل ته و ویل:

ته کښېنه!

زه به چای دم او دواړه به یې، وڅښو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شین ګل و ویل:

ما اوس دستي له راتګ نه، چای و څښل.

مننه کوم.

الله دې، جنتي کړه.

بیا د ځای نه پاڅېد، ماشوم یې په بړستنې کې تاو او په غېږ کې یې و نیو.

د وجرې نه د باندې او خپل بوټان یې، په پښو کړل.

د ملا نه یې خدای پامانی واخیسته او کور خوا، روان شو.

لږ ځنډ وروسته، کورته، ورسېد.

د کوټې دروازه یې خلاصه او کوټې ته، د ننه شو.

ښځه یې په خپلې توشکې، کښېناسته او شین ګل ته یې، و ویل:

را کړه!

الک، ما ته را کړه!

شین ګل و ویل:

سمه ده!

وا خله!

هغې ماشوم واخیست.

بیا یې شین ګل ته، و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګه؟

ملا صيب د هغه په غوږ کې آذان ورکړ؟

شينګل و ويل:

هو!

بيا يې، و پوښتل:

نوم يې پرې، څه کېښود؟

شين ګل و ويل:

جمعه الدين.

هغې و ويل:

ښه نوم دی.

خدای دې، مونږ ته، نيک صالح لوی کړي.

شين ګل و ويل:

آمين!

بيا يې د هغه نه بړستن لرې او د ځان سره يې، نږدې واچوه.

لمړی يې هغه ته پی (شيدې) ورکړې، بيا يې هغه پر کوشنۍ توشکې واچوه.

سر ته يې بالښت کېښود کوم چې، په کمانۍ (کمانکې) کې د ننه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توده بړستن

.................

وروسته يې، د هغه پر پښو هماغه توده بړستن واچوه او د کمانۍ (کمانکې) د پاسه يې خپل د اوړي ورځې لوی ټيکری (څادر) واچوه.

ماشوم هم د للو، للو په ويلو سره، بيده شو.

جمعه الدين، لوېده.

لمړی په خپوړو او بيا وروسته په ګرځېدو، شو.

ورو، ورو به، د باندې ګرځېده.

ملګري يې و موندل او د هغوی سره به يې، لوبې کوې.

جمعه الدين، په رنګ کې لږ تور و.

هغه ته به خلکو، مثلی ويل.

هغه، د مثلي کلمې سره جوړه، نه وه.

مثلي د کلمې په اورېدو سره به، په غصه کېده.

کله نا کله به لوبه هم پرېښوده او خپل کورته به، ته.

هغه پوره اووه کلن او د ښوونځي شو.

د هغوی د اوسېدو په سيمې کې ښوونځی، شتون نه درلود.

خلکو هم د ښوونځي سره مينه، نه درلوده.

هر چا (کس) به کوښښ کوه چې پرخپلو زامنو سبک (سبق) و نه وايي، او پر هغوی، کار وکړي.

کسب ته به يې د ښوونځي نه، غوراوی، ورکاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلکو اقتصادي حالت هم، ښه نه وو.

غوره کارونه په هغه وخت کې، ژرنده ګړي، ناېن (ډم، سلمان، بربر) بزګري (دهقاني)، مثلي توب، چوپانی، قوالي، ښکار (مرغانو ته جال ایښودنه) او د چوکې بزګري (دهقانی) وه.

جمعه الدین، لږ لوی شو.

پلار یې د یوه مثلي سره، شاګرد (مزدور) کړ.

هغه نوی په ځوانۍ، راغلي و.

هغه به په درمندو کې ښه شاخۍ وهه، درومندونه به یې با دول.

درمند به یې په راشپېل هم ټولاوو او داني به یې اوا (هوا) ته پورته کوې.

په دندو کې، مخکښ او خورا تکړه شو.

د خلکو په وینا په ریښتیا هم، مثلی شو.

هغه په خلکو هم، ګران و.

خپله دنده به یې په ښه توګه، سر ته رسوه.

وخت تېر او هغه ځوان شو.

پلار یې هغه ته کوژده (کوزده) وکړه.

د هغه کورنۍ، د ولور او واده مراسمو پیسې نه درلودې.

هغه مجبور شو د پیسو موندلو (ګټلو) له پاره ایران هېواد ته لاړ او الته شاقه کارونه، وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوره پنځه کاله یې، الته تېر کړل.

پیسې یې ټولې او بیا  بېرته خپل هېواد ته، ستون شو.

هغه له ځانه سره ښکلی سیکو-۵ لاسی ګړی (ساعت)، د بخار دېګی، کوشنی ټیپ، راوړل.

پلاریې د هغه د واده، بندو بست وکړ.

څه نغدې پیسې یې ورته، ولور په توګه د هغه خوسر(خسر) ته، ورکړې.

د واده ورځ، وټاکل شوه.

دوستان او خپلوان یې، واده ته، خبر کړل.

د هغه کور ځنګ ته، یوه ناین (ډم، سلمان، بربر) ژوند کاوه.

هغه په کور کې نغارې (دوکړې) درلودې او د خوشحالۍ په مراسمو کې به یې غږوې(وهې).

هغه، نغارې به یې د اوزو پوستکو، کټوو پر سر به یې پوښوې او د ځانګړو لرګیو په مرسته به یې، غږوې.

د نغارو غږ ډېر لوړ او ګړندی و.

تر ډېرو ځایونو پورې به اورېدل کېده.

همدا راز به نغارې، د روژې میاشتې په پېشنمي (پېشلمي) کې هم د خلکو د پاڅولو له پاره،غږوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه په هغه وختونو کې، خلکو سره به ګړی (ساعت) د اعلان له پاره په جوماتونو کي لوړغږی ( لوډسپيکر) هم نه و.

ډېرو لږو يانې (يعنې) په شمار کسانو به، راډيو درلوده.

په دې اساس نغارې د اعلان يا د خلکو د پام ګرځونې د پاره ډېره ښه او مناسبه وسيله، هم وه.

همدا راز د نغارو غږولو نه په اخترونو او نورو مهمو پېښو کې به، کار اخيستل کېده.

د کلي ناين چې نيازو نوميده، شينګل اکا ته ورغی او د هغه يې و پوښتل:

واده خو به نږدې نه وي؟

شينګل و ويل:

ياره نيازو!

لس ورځې به پاتې، وي.

بيا شينګل و پوښتل:

نغارې خو به دې سمې، وې.

هغه و ويل:

شينګل اکا!

يوه خويې ټيټه او بله يې څه نم وهلې ده او ښه غږ، نه کوي.

شينګل و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حل لاره ،لري؟

نیازو و ویل:

هو!

ځو ورځې به یې لمر ته، کېږدم او بیا به یې غوړه کړم.

ډاډمن یم چې، بېرته به، سمه شي.

شینګل و ویل:

سمه ده !

مونږ ته بس له ځو کالو، خدای ښادې راکړې ده.

نیازو و ویل:

سوچ، مه کوه.

داسې نغارې به د جمعه الدین په واده و وهم چې ځوانان او زاړه به
په نڅا کې ګډ شي، ښځې او ماشومان خولا، پرېږده.

شینګل په خندا شو.

بیا یې و ویل:

وګورو.

لس ورځې، تېرې، شوې.

سهار وخته، دېګي بار شوو.

دېرې کې نیمځي او سترنجی، اوارې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توده برسېتن
.................

د شینګل په کورکې هم، ګیلمونه و غوړول شوو.

توشکې پرې اوارې، شوې.

د شینګل د کور کوټې او انګړ د ښځو د پاره، و ټاکل شو.

نیازو هم خپلې نغارې، دېرې ته ویوړې او په وهلو یې پیل کړ.

ماشومانو هم د هرې خوا نه، مندې او ځانونه یې، دېرې ته ورسول.

ځوانانو پر نڅا پیل او هرې خوا، خوشحالي پیل شوه.

غرمې کې، خلکو ته، تودې او مرچني شولې پخې او و وېشل شوې.

واده د ځانګړو مراسمو سره، پای ته ورسېد او ناوې یې کور ته، راوسته.

د جمعه الدین نوی ژوند، پیل شو.

ژوکاله یې په خوشحالی سره تېر کړل.

وختونه بدل او په  هېواد کې، جګړه پیل شوه.

هغه هم د افغانستان نه، ګاونډ هېواد ته، کډه شو.

البته د ناصر باغ کمپ کې د دوستانو په مرسته، په یوې کنډوالې کې ځای پر ځای او بیا وروسته یې دوې خیمې د مرستندویو موسسو له خوا، تر لاسه کړې.

البته به یې هم مزدورۍ کوې او حلاه روزي به یې ګټه او د خپل پلار او مور سره به یې په ګډ (شریکه) خوړه.

کله نا کله به یې څه مرستې د راشن په توګه، لاس ته راوړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه وخت تېر شو.

هغه ته خدای زوی، ور په برخه کړ.

پر هغه یې نوم، سلام الدین، کېښود.

هغه هم په رنګ، تور و.

دوې کاله وروسته یې بل زوی پیدا او پر هغه یې نوم نورالدین کېښود.

درې میاشتې وروسته یې پلار، کلک (سخت) ناروغه شو.

جمعه الدین د هغه دوایې، پیل کړه.

وروسته څرګنده شوه چې، هغه د سرطان په ناروغۍ اخته شوی دی.

کال وروسته د دوایی سره سره، هغه مړ شو.

دوې کاله وروسته، خدای هغه ته، بل زوی هم ورکړ.

پر هغه یې نوم غوث الدین، کېښود.

ژوند په خوشحالۍ، تېرېده.

کال وروسته یې، مور هم ناروغه شوه.

هغه په رواني (روحي) ناروغۍ، اخته شوه.

جمعه دین دهغې دوایي هم کوه.

هغه به ورځ ترېلې بد ترېده او دوایی پر هغې کومه ګټه، نه درلوده.

کله ناکله به یواځې د کور نه وته او پر کوڅو او سړکونو به، ګرځېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

توده بړستن

.................

چا به هغې ته څه پیسې ورکوې او هغې به هم پر خپلو لمسیانو(مسیانو) وېشې.

ځو کاله نور هم تېر شوو.

هغې خپله حافظه هم، د لاسه ور کړه.

خپل کور به یې نه پېژاند.

کله به چې په کمپ کې ورکه شوه، کوشنیانو به هغه د لاس نه، نیوه او بېرته به یې د جمعه الدین اکا کور ته، سپاره.

د کورنۍ غړو به پر هغې پیره کوه، چې د انګړ نه، د باندې لاړه نه شي.

خو بیا هم، هغه به پټه د کوره وته او هرې خوا به، ګرځېده.

یوه ورځ جمعه الدین د کوره وختې کار خوا ته، روان شو، مور یې هم ور پسې و وته او ورو، ورو بازار خوا ته، روانه شوه.

کله به د سړک په یوې خوا او کله به، په بلې خوا ګرځېده.

کوم وخت چې به پرې خوب راغی، خپل د تیکري څنډه به یې پر تیرې اواره او سر به یې پر هغه کېښود او د څو ګړیو د پاره به ببده شوه.

په همدې ورځ مازیګر، کوم وخت یې چې غوښتل د سړک له یوې خوا، بلې خوا ته واوړي، موټر و وهه.

خلک راټول (غونډ) شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توده برسټن

.................

یوه موټر ته یې پورته او د پېښور ښار یوه سرکاري ( حکومتي) روغتون ته یې ورسوه.

البته د بېړنۍ څانګې ته یې وېوړه.

ډاکټرانو خپلې څېړنې، پیل کړې.

بیا یې خلکو ته، و ویل:

خدای دې و بخښې!

هغې خپل ژوند، د لاسه ورکړی دی.

تاسو کولای شئ، خپل مړی، کورته یوسئ.

خلکو د ډاکټرانو هڅو ته مننه وکړه او د روغتون اداري څانګو نه یې و غوښتل چې د هغوی د مړي لېږد له پاره، هغوی ته، امبولانس ورکړي.

د روغتون اداري کسانو وروسته د څو فورمونو ډکولو نه، هغوی ته امبولانس ورکړ.

هغوی مړی د جمعه الدین اکا کور ته، و رساوه.

د امبولانس په رسېده، سره د کمپ نږدې کورونو نارینه او ښځې منډې کړې.

څوک نه پوهېدل چې، د چا مړی، په امبولانس کې دی؟

پوښتنې پیل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته، څرګنده شوه، د جمعه الدين اکا مور، موټر وهلې اوشهيده شوې ده.

په هغه وخت کې غوږکی (ګرځنده ټيلفون) هم نه و.

خلکوو د هغې مړی کوز، پرېمنځه او کفن يې کړ.

بيا د جمعه الدين اکا، انتظار يې و کړ تر څو هغه راشي او ترې پوښتنه وکړي، چې په کوم ځای کې يې غواړي، خاورو ته، وسپاري.

مازيګر ناوخته، جمعه الدين اکا خپل کور ته، ورسېد.

کورته نږدې يې د خلکو ګڼه ګونه و ليده.

هغه هک، پک شو.

بيا يې په زړه کې و ويل:

خدايه !

خير کړې!

څه خبره شوې چې خلک زما د دروازې خوا ته، راټول شوي دي.

هغه خپل ګامونه، ګړندي کړل او ژر يې ځان د کور دروازې ته، ورساوه.

الته يې، پوښتنه وکړه:

څه خبره ده؟

يوه سپين ږيرې ورته، هغه د مور مړينې پيغام ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توده برستن

.................

د جمعه الدین په سترګو، تیاره شوه.

هغه ځای پر ځای، پر ځمکه کښېناست.

پر ژړا یې، پیل کړ.

بل کس ور نږدې او هغه ته یې، و ویل:

ژاړه، مه!

او د ژړا وخت، هم نه دی.

وخت، ناوخته دی.

ټول کارونه شوي دي.

دومره و وایه چې مړی (میت) چېرې، ښخ کړو.

هغه و ویل:

نه پوهېږم.

کس و ویل:

غواړې، هغه افغانستان ته ولېږدوي؟

هغه و ویل:

نه!

زه، بې وسه (غریب) سړی یم.

ایله، ایله خپله او د کورنۍ ګېډه پرې، چلوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې، هغه کس ته و ویل:

دلته نږدې ادیره (هدیره) شته؟

کس و ویل:

هو!

نږدې د مهاجرو ادیره (هدیره) شتون لري.

ښه به وي چې، مړی (میت، جنازه) پورته او ژر یې خارو ته، وسپارو.

هغه و ویل:

سمه ده!

بیا د سیمې ملا غږ کړ:

اله ځوانانو!

مړی اوچت، کړئ.

خلکو هم، مړی اوچت او ادیرې خوا ته، روان شوو.

لږ ځنډ وروسته هغوی ادیرې ته ورسېدل او ځوانانو ژر، ژر یې د قبر په کیندنه، پیل کړ.

بیا ملا و ویل:

د قبر تر کیندنې پورې، ښه به وې چې، هغې د جنازې لمونځ ادا کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

توده بړستن

.................

وخت، تېر دی.

بیا به، د ماښام لمونځ هم په جمع، ادا کړو.

خلکو و ویل:

سمه ده!

ټول شویو کسانو (خلکو) مړی، د دود سره سم، خاورو ته، وسپاره.

جمعه الدین اکا، د نورو کسانو سره، بېرته کور ته ستون شو.

سبا یې په کمپ کې، فاتحه ونیوه.

په درېیمه ورځ یې، د خپل وس (توان) په اندازه، خیرات او پر بې وسو خلکو یې، و وېشه.

وختونه، تېر شوو.

په هېواد کې جګړې، پایښت (دوام) درلود.

په هېواد کې د دایمي (همېشني) اوربند یا جګړې پای، کوم څرک، نه څرګندېده.

کوم کسان چې د عسکرۍ او سیاسي نظام نه تېښته کوه، ګاونډ هېوادونو ته تلل او الته به، د کډوالو افغانانو شمېره ورځ تر بلې ډېرېده ( زیا تېده).

د جمعه الدین اکا مشر زوی (سلام الدین)، ځوان شو.

لمړی، هغه ته یې کوژده (کوزده) او بیا کال وروسته یې، هغه ته، واده هم وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توده بړستن

.................

د هغه ښځې، څه روحې ناروغي، درلوده.

هغه به، بې هوښه، کېده.

سلام الدین هغه یې، روغتون ته ورسوه.

ډاکټرانو د هر اړخیزې معاینې نه وروسته، و ویل:

څه و وایم؟

هغه میرګې لري.

سلام الدین، ډاکټر ته و ویل:

آیا د هغې د دوایي لاره چاره، شته؟

ډاکټر و ویل:

مخکې د مخکې نه، څه نه شم ویلی.

خدای مهربانه، دی.

زه به، ورته دوایی ولیکم، ګوندې ښه شي.

سلام الدین پر هغې ډېره دوایي، وکړه.

د خلکو په وینا هغه یې د تاویز لیکوالانو ته هم، وبوړه.

د هغې غاړه، د تاویزانونه، ډکه وه.

تاویزونو، هر رنګ پوښونه، درلودل.

ځینو یې د سپینو زرو، پوښونه، هم درلودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت تېرېده.

نه هغه ښه کېده او نه یې کوم ماشوم راوړ.

څوکاله نور هم تېر، شوو.

بیا هغه نوره هم، ناروغه شوه.

څو میاشتې وروسته، د هغه ښځه هم مړه او هغه یې د خپلې مور خوا ته، ښخه کړه.

د جمعه الدین اکا دوې نور ځامن هم، لویان او ځوانان شو.

هغوی به کار کاوه او په ګډه به یې ژوند چارې، مخې ته، وړې.

څو کاله نور هم، تېر شوو.

جمعه الدین اکا خپل مشر زوی یانې (یعنې) سلام الدین ته، بله کوژده وکړه.

دوې کاله وروسته یې هغه ته، نوی واده، وکړ.

دوې کاله وروسته، سلام الدین ته خدای، زوی ورکړ.

د هغه نوم یې رحم الدین کېښود.

بیا وروسته، خدای هغه ته بل زوی ورکړ.

څو کاله، ټولو په ګډ (شریکه) کار وکړ.

پیسې یې ټولې کړې.

بیا یې خپل دوېیم زوی یانې نورالدین ته کوژده وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

توده برستن

.................

د هغه خوسر(خسر) لږ شتمن و.

پر هغه يې ډېر بوج (بار) کېښود.

ولور يې هم، ډېر و.

هر څه چې به يې کار کوه، د ولور پيسې به نه پوره، کېدې.

کلونه تېرېدل او هغوی واده ته، نه برابرېدل.

بيا د سپين ږيرو په مرسته يې د ولور بار لږ او پرېکون يې تر سره کړ.

درې مياشتې، وروسته يې هغه ته، واده وکړ.

څه و خت تېر شو.

بيا يې د خپل کشر زوی ته کوژده او دوې کاله وروسته يې هغه ته هم واده وکړ.

هغوی ټول يوه ځای، اوسېدل.

څه وخت تېر او جمعه الدين اکا، مړ شو.

د هغه خير او خيرات ټولو په ګډه، وکړ.

د هغوی تر منځ دوستي او ورور ولي وه.

د زماني خوند د لاسه، لاړ.

هغوی کوښښ کوه چې هر ورور جلا او ځانته، ژوند وکړي.

مور يې د هغوی خبرې نه منې او ويل يې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توده بړستن

.................

ترڅو چې ژوندۍ یم، تاسو به دا ارمان ګور ته وېسئ.

زامن يې، جلا ژوند ته، خوشحاله نه وو.

د هغو ښځو او ماشومانو غوښتل چې، جلا ژوند وکړي.

ځان ته يې وګټي او ځان ته يې و خوري.

خو هغوی د جلا کېدو په ارمان وو.

پوره لس کاله، تېر شو.

مور يې، ناروغه شوه.

زامنو يې، د هغې پر دوايي پيل کړ.

څومياشتې، تر درملنې لاندې وه.

هغه هم، مړه شوه.

زامنو يې دهغې مړی د مهاجرو اديرې ته ویوړ او کوښښ يې و کړ تر څو د هغې مړی هغوی د پلار تر څنګ ښخ کړي.

د هغوی د پلار څنګ ځای، له پخوا نه ډک شوی و.

هغوی یوه نږدې ځای وټا که او خپله مور يې په کې، ښخه کړه.

سبا يې د هغې پاتيا (فاتحه) واخيسته او په دربيمه ورځ يې د هغې خير او خيرات وکړ.

اونۍ نه پوره شوې چې د هغوی تر منځ ترينګلتياوې ډېرې او ورونه دې ته اړ شو چې، سره بيل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

توده برسټن

.................

هغوی سره بیل (جدا) شو.

ټولو په یوه جلا وطنۍ کور کې، ژوند کوه.

د هر چا ګټه بیله (جلا)، مصرفونه او پخلي هم، سره جلا شوو.

کور کې منافقت (نفاق) او ستونزې ډېرې شوې.

د یوه ورور ماشومانو به د بل ورور ماشومانو سره شور ماشور او جګړې کوې.

میندو به یې د خپلو ماشومانو، لنګې کوې.

ماښام چې ورونه ستړي او ستومانه، کورته راتلل، د هغو ښځو به هغوی ته، ګیلې او ګزارې، کوې.

یوي به پره د بل ورور پر ماشومانو، اچوه.

ژوند مخ په، ترینګلتیا شو.

یوه د جمعې ورځ چې هغوی دندو ته نه وو تللي، په یوې کوټې کې سره غونډ شو، پر جلا کېدو او د پلار په میراث وېشو یې خبرې پیل کړې.

هر کس (چا) به کوښښ کوه چې د کور بها لرونکي (قیمتي) مالونه، ځان ته، واخلي.

په دې ورځ، هغوی کومې پایلې ته، و نه رسېدل.

خپګیان ورځ تر بلې ډېرېده.

خوشحالۍ ورځې، لږېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

توده پرستن

.................

د ښځو تر منځ، جګړې او شور ماشو هم، مخ په ډېرېدو شو.

میاشت بله، هم تېره شوه.

شخړې ورونو ته، هم ورسېدې.

بله لار، نه وه پاتې.

هغوی دې ته اړ شو، تر څو د پلار میراث ویش پیل کړي.

بیا هر څوک په خپله مخه، لاړ شي.

ورونو د میراث ویشولو په اړه، یوه د جمعې ورځ، و ټاکه.

په دې ورځ کې یې د سیمې مشر او نږدې جومات ملا امام ته هم، بلنه ورکړه.

د جمعې ورځ ورسېده.

د هغوی مشر ورور سلام الدین خپله کوټه پاکه او سوتره (ستره) کړه.

ښځې یې چای په ترموزونو کې، دم او د کوټې پر یوه کنج کې یې سره خوا په خوا کېښودل.

سلام الدین هم، څو چکۍ کوړه (ګړه) واخیسته او ښتک پر ښټ یې ما ته او بیا یې په څو غابونو کې، و وېشه.

غابونه یې هم د چای د ترموزونو تر څنګ، کېښودل.

بیا ښځې یې، پیالې پرېمنځې او هغه یې هم د ترموزونو تر څنګ کېښودې، او پر هغو یې دسمال کش کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لس بجې شوې.

د سیمې مشر او  ملا امام ورسېدل.

دروازه یې، وټکوه.

سلام الدین دروازې ته لاړ.

لمړی یې هغوی ته، سلام ورکړ.

هغوی هم د سلام الدین سلام ته، وعلیکم و ویل.

بیا یې هغوی ته، د کور د ننوتو، بلنه ورکړه.

هغوی و ویل:

وګوره!

په کور کې، ځوک نه وي.

سلام الدین کور ته د ننه شو او غږ یې کړ:

ځوک دې، نه وي!

بیا یې د سیمې مشر او ملا امام ت، و ویل:

راځئ!

ځوک نه شته!

بیا هغوی ټول، انګړ ته، د ننه شوو.

سلام الدین، هغوی یې خپلې کوټې ته، و بلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توده برسټن

.................

هغوی هم، د سلام الدين سره، د هغه کوټې ته، د ننه شوو.

بیا سلام الدين، هغوی ته و ویل:

د لته پر توشکو کښېنئ!

هغوی پر توشکو کښېناستل.

سلام الدين هم د هغوی څڼ ته، بالښتونه ور وړاندې، کړل.

بیا يې ترموزونه، او پیالې يې هم ځان ته، نږدې کړې.

چای يې په پیالو کې، و وېشه.

بیا يې، د مېلمنو مخې ته کېښودې.

د ګوړې (ګړې) غابونه يې هم میلمنو ته نږدې کړل او د هغوی نه يې و غوښتل چې په ښلو يې، پیل کړي.

په دې وخت کې، د هغه نور ورونه هم، کوټې ته ننوتل.

هغوی، سلام ورکړ.

د جومات، ملا امام د هغوی سلام ته يې، وعلیکم و ویل.

بیا سلام الدين، هغوی ته و ویل:

تاسو هم پر توشکو کښېنئ!

هغوی هم پر توشکو لکه تربورنو، کښېناستل او خبرې يې نه کوې.

لږ ځنډ وروسته ملا امام خبرې، پیل کړې.

هغه د اتفاق پر مسایلو او کتو خبرې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د سیمې مشر و ویل:

اوس، ملا صیب، کار د کار نه وتی دی.

ښه به وي چې په اصلی خبرو، راشو.

په د ې وخت کې د سلام الدین کشر ورور، غوث الدین د پلارني شیانو او سامانونو لیسټ وړاندې کړ، بیا یې و ویل:

دا ټول لیسټ دی.

تاسو کولای شئ، زمونږ په منځ کې یې په انصاف سره (عادلانه توګه) و وېشئ.

بیا ملا امام هغه لیسټ واخیست او په ځیر سره یې ولوست.

ورسته یې و ویل:

دا لیسټ تاسو ټولو ورونو لوستی دی.

هغوی و ویل:

نه!

بیا سلام الدین و ویل:

کولای شې تاسو یې ولولئ چې په کې څه لیکل شوې دي.

هغه و ویل:

سمه ده!

تاسو غوږ شئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توده بړستن

.................

د لیک د لوستلو تر پایه به، خبرې نه کوئ.

هغوی و ویل:

سمه ده!

بیا ملا امام د لیک په لوستلو، پیل کړ.

لیک پای ته، ورسېد.

بیا د سیمې مشر و ویل:

کوم څه پاتې چې په لیست کې، نه وي؟

مشر ورور یې و ویل:

ټول شیان په لیست کې شتون لري، خو یوه شی (څیز) په کې نه شته.

د سیمې مشر و ویل:

کوم شی؟

سلام الدین و ویل:

توده بړستن.

کوشني ورور یې، و ویل:

هغه ما ته، پلار مې بخښلې ده.

سلام الدین و ویل:

زه یې، نه منم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هم باید، په لیسټ کې ګډ (شریکه) شي.

په دې بېرستنې ورونه سره تاوده شوو.

نږدې وو چې یوه، د بل سره غېږې، ونیسي.

بیا د سیمې مشر و ویل:

تاسو پر خپلو ځایونو، کښېنئ!

د تودې بېرستنې موضوع به پایلې ته، پرېږدو.

هغوی و منه.

بیا د سیمې مشر و ویل:

کاغذ او کلم (قلم) راوړئ.

سلام الدین هم انواری (الماری) ته، نږدې شو.

د الماری دروازه یې خلاصه، کتابچه او کلم (قلم) یې را واخیست.

هغه یې د سیمې مشر ته، ور کړه.

هغه هم، د لیسټ سره سم، پر ویش پیل کړ.

دلیسټ مواد د ستونزو سره، سره و وېشل شوو.

ټول شیان خلاص شو او ورونو هم پرې، موافقه وکړه.

بیا وروسته، سلام الدین و ویل:

هغه توده بېرستنه، پاتې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا و ویل:

ښه به دا وي چې دوې ورونه ترې تېر(صرف نظر) وکړی، درېیم اوکوشني ورور ته يې، وسپاري.

نورو، ورونو و ویل:

نه!

مونږ يې نه منو.

دا بې انصافي ده.

بیا بل ورور يې، و ویل:

د دې برسټنې ارزښت تر ټولو، لوړ(ډېر) او هغه يوه شا لید( تاریخي) برستن ده، او تر او سه په ښه توګه، ساتل شوې ده.

هر راز سوچونه، وړاندې کېدل.

يوه هم د منلو وړ نه و.

بیا ملا پرې، غږ کړ.

زه هم يوه، وړاندیز لرم.

سلام الدين و ویل:

و وایه ملا صیب!

ستا وړاندیز، څه دی؟

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

توده برستن

.................

ښه به دا وي چي پرې پچه واچوو، د هرکس (چا) چې پچه و ختله، کولای شي، هغه تر لاسه او نور حق نه لري، چې پریکړه، بېرته وګرځوي، او یا ترې پښېمانه شي.

ټولو ورونو، و منه.

ملا هم کاغذ را واخیست.

د هر ورور نوم یې، په جلا، جلا توګه په کوشنیو کاغذونو کې و لیکه او بیا یې کاغذونه جلا، جلا تاو او کولوله، کړل.

بیا یې د سیمې مشر ته، و ویل:

په دې کاغذونو کې، یوه واخله!

هغه هم کاغذونه سره واړول او راواړول.

یوه یې په کې خوښ، کړ.

هغه یې ملا امام ته، ورکړ.

هغه هم کاغذ خلاص او لیکل شوی نوم یې ولوست.

په کاغذ کې د سلام الدین نوم، څرګند شو.

هغه ته، مبارکي و ویل.

بیا یې یوه د خیر دوعا، وکړه.

د سیمې مشر و ویل:

تاسو کولای شئ د لیست سره سم، خپل شیان تر لاسه، کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی، ومنه.

بیا د سیمې مشر او ملا امام د خپلو ځایونونه، پاڅېدل او سلام الدین ته یې و ویل:

وګوره!

ځوک د باندې نه وې.

سلام الدین د کوټې نه د باندې شو او ویې ویل:

ځوک دې، نه وي.

بیا یې هغوی ته، و ویل:

راځئ!

ځوک، نه شته!

هغوی د انګړ نه، د باندې شوو.

سلام الدین هم، د هغوی سره د دروازې تر څنګ، و وت.

هغوی، خپلو موخو پسې، لاړل.

سلام الدین، بېرته، کورته، د ننه شو.

هغوی ټول مالونه، په انګړکې ټول کړل او هر کس (چا) د لیسټ سره سم خپل مالونه واخیستل او خپلو کوټو ته یې، د ننه کړل.

څو ورځې تېرې شوې.

سلام الدین، بېرته، خپل هېواد ته، ستون شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپلې پلارنۍ سیمې ته لاړ.

البته يې څه ځمکه په اجاره و نیوه او هم به يې د شولو، غنمو لو کاوه او همدا راز يې، درمندونه، بادول.

کال وروسته يې، ښځه مړه شوه.

هغه يې د کلي په اديرې(هديرې) کې خاورو ته، و سپاره.

ژوند يې ښه تېرېده.

څلور کاله مخکې، هغه هم وفات او هماغه اديرې (هديرې) کې خاورو ته، وسپارل شو.

د هغه نه اوس، پنځه زامن پاتې دي.

هغوی ځمکې کري او د يوه خان په کور کې، ژوند کوي.

ټولو يې، وادونه کړي، زامن او لڼونې هم لري.

نور وورنه يې، نورالدين او غوث الدين خپل ژوند پر مخ بووه او د ناصر باغ د کمپ په ورانيدو سره، بلې خوا لاړل.

څو کاله يې تېر کړل او بيا يې پيسې ټولې او د پېښور ښار بر ټاکال کې يوه کوشنۍ کور په بيه او د بل چا په نامه چې د پاکستان هېواد اوسېدونکی و، واخيست.

دواړو ورونو په خوشحالۍ سره، خپل ژوند تېراوه.

وخت تېر او د پاکستان هېواد، حالات کړکېچن شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

توده برستن

.................

حکومت هوډ وکړ تر څو تېول غیر قانوني کډوال، د خپلې خاورې ته، وباسي.

پاکستان حکومت د افغانانو په جبري وېستنې، پیل کړ.

هره ورځ به یې په زرګونه کډوال، د خپلې خاورې ته باسل.

په کډوالو کې د سلام الدین ورونه هم ګډ (شامل) شوو.

هغوی خپل جایدادونه او کالي په کمه (لږه) بیه، وپلورل او بېرته هېواد ته، ستانه شوو.

هېواد کې یې کوم څه نه درلودل.

نه یې ځمکه وه او نه یې پلارنی، کور.

هغوی لمړی جلال آباد ښار په کمپ کې مېشت او څو خیمې یې د اوسېدو له پاره، تر لاسه کړې.

د یوې خوا ژمی، اوا (هواه) هم ډېره سړه وه او د بلې خوا هغوی یوازې د ځان کالیو کې، راغلی وو.

خوراکی شیان یې، نه درلودل.

د ملګرو ملتونوله خوا، ور سره، مرستې و شوې.

څه موده یې، الته تېره کړه.

نورالدین اوغوث الدین دواړه، لغمان ولایت، بادپښ ولسوالۍ ته، لاړل او بیا یې د خپل ورور پوښتنه وکړه.

خلکو، ور ته، و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا ورور، ځو کاله د مخه، مړ (وفات) شوی دی.

اوس يې ځامن او لمسيان په کوز کلي کې، ژوند کوي.

هغوی کوز کلی ته، لاړل.

الته يې هغه د مشر زوی نوم، واخيست.

يوه کوشنۍ ماشوم د هغوی سره د سلام الدين تر کوره، لاړ.

بيا يې هغوی ته و ويل:

دا د سلام الدين اکا کور دی.

د هغه د مشر زوی نوم رحم الدين و.

بيا ماشوم د هغوی نه خدای پاماني واخيسته او بېرته، خپل کور ته روان شو.

نورالدين دروازې ته، نږدې شو.

دروازه يې، و ټکوه.

يوه کوشنۍ جلۍ دروازې ته، راغله او ويې پوښتل:

څوک ياست؟

نورالدين و ويل:

زه او غوث الدين د سلام الدين ورونه، يوو.

بيا نورالدين و پوښتل:

رحم الدين په کور کې دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې و ويل:

نه!

هغه پر ځمکو کار کوي.

بيا نورالدين و پوښتل:

ته يې څه کيږې؟

هغې و ويل:

زه يې، لور يم.

بيا يې و ويل:

ښو بچې به هغه کور ته، راشي؟

هغې و ويل:

نه پوهيږم.

بيا نورالدين و ويل:

د هغه د غوږکي (ګرځنده ټيلفون) شمېره څو، ده؟

هغې و ويل:

زه، نه پوهيږم.

بيا نورالدين و ويل:

کېدای شي د هغه شمېره، را ته په کاغذ کې و ليکې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې و ویل:

زه مې مور ته، و وایم.

هغه کور ته لاړه.

نورالدین او د هغه ورو د دروازې تر څنګ (شا) ودرېدل.

څو دکیکې نه وې تېرې شوې چې د رحم الدین ښځه دروازې ته راغله.

د دروازې تر څنګ یې نورالدین او غوث الدین ته سترګې مه شئ، و ویل.

هغوی و ویل:

خیر یوسئ.

بیا یې و پوښتل:

د رحم الدین پر شمېرې، څه کوئ؟

نورالدین و ویل:

هغه زمونږ وراره دی.

بیا هغې ورته، د کور د ننوتو بلنه ورکړه.

هغوی و ویل:

مننه کوو.

لږ به د باندې انتظار شو، تر څو هغه راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

توده بړستن

.................

هغې و ویل:

سمه ده!

بیا یې رحم الدین ته زنګ و واهه او د هغه یې وغوښتل چې، کور ته راشي.

څو دکیکې نه وې تېرې شوې چې، رحم الدین کور ته، ورسېد.

د لرې نه یې خپل ترونه، ولیدل.

په خوشحالۍ سره ،ورته نږدې شو.

د هغوی سره یې، روغبړ وکړ.

بیا یې د کور دروازه خلاصه او هغوی ته یې و ویل:

د ننه شئ.

هغوی ته یې د میلمه کوټې، بلنه ورکړه.

هغوی کوټې ته ننوتل او پر توشکو، کښېناستل.

ښځې یې، ژر چای راوړ.

بیا یې خپلې ښځې ته و ویل:

غرمې ته، کورت (کرت) او اوګره (وګره) تیاره کړه، زما د ترونو خوښه راځي.

هغې و ویل:

سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومه ستونزه، نه شته.

غرمه شوه.

ډوډۍ تیاره، شوه.

ټولو په شوک (شوق) سره اوګره د تازه او شنو سابو سره، وخوړه.

ماسپښین شو.

بیا ټول نارینه، ماسپښین د لمانځه ادا کولو د پاره، جومات ته، لاړل.

وروسته له لمانځه، نورالدین خپل وراره ته، و ویل:

دلته، څه ځمکه د کرنې د پاره موندل کیږي.

هغه و ویل:

نه!

اوس نه شته!

څو ورځې د مخه دوې جریبه ځمکه، وه.

هغه ما یوه بل کډوال، کوم چې د پاکستان هیواد، نه راغلی و، وسپاره.

هغه اوس پر کرنې بوخت او ډیر خوشحاله دی.

په خبرو خبرو، هغوی کورته، ورسیدل.

بیا د رحم الدین کورته، د ننه شوو.

د هغې ښځې شین چای د کوړې (ګړې) سره راوړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحم الدين هم چاى په پيالو کې واچوه او تولو په ښنلو يې پيل کړ.

د نورالدين سترګې په يوې کوشنۍ بړستنې ولګېدي، کومه چې په بو غبند کې تاوه او د کوټې په کنج کې زوړنده وه.

هغه و پوښتل:

د کوټې په کنج کې مو څه زوړند کړى، دى؟

رحم الدين و ويل:

هغه يوه کوشنۍ بړستنه ده.

هغه مونږ ته د پلارونو نه، په ميراث، پاتې ده.

نورالدين و پوښتل:

هغه، مورکانو ،نه ده خرابه کړې؟

رحم الدين و ويل:

نه!

مونږ، هغه ښه ساتو، ځکه عمر يې ترسلو کلونو ډېر (زيات) دى.

په هغې کې ډېر مالوچ کارول شوى او ډېره توده ده.

مونږ به پر خپلو ماشومانو، اچوه.

هغوى به هم، تاوده وو.

په اوسني بړستنو او کمپلو کې هېڅ برکت، نه شته.

بيا يې رحم الدين ته، و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خرڅوې؟

رحم الدين و ويل:

نه!

هيڅکله!

هغه زما د پلار، نښه ده.

په خبرو، خبرو کې مازيګر شو.

نورالدين او غوث الدين درحم الدين و غوښتل، تر څو د ځمکې په موندنې کې، ور سره مرسته وکړی.

سراج الدين و منه.

بيا هغوی د خپلو ځايونونه، پاڅېدل.

د رحم الدين نه يې مننه او بيا يې د هغه غوږکي (ګرځنده ټيلفون) شميره واخسته او ويې ويل:

غر په غر نه ځي، مګر انسان په انسان ځي.

بيا يې خدای پاماني واخسته او د انګړ نه د باندې شوو.

رحم الدين هم، د هغو سره د باندې او تر لارې ور سره لاړ.

هغوې په يوې ريکشا کې کښېناستل او لاړل.

رحم الدين هم بيرته، کور ته راغی.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاپ شویو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلايي
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
١٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
١٥. نقش دانشمندان مسلمان، بر بر در فن معماری و معماری
١٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲٥. چېر ته چې قانون نه شته (کډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳٥. مجنون او ګلچین (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم
(جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣٩. برف ها آب میشود
٤٠. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤١. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤٢. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤٣. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٤. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤٧. د شیپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤٨. حشمت خان د کلا معماري
٤٩. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥٠. د وچو بنونه او پارکونو معماري
٥١. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥٢. د ژرنده ګړي ماما مینه (پښتو ناول)
٥٣. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادې (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د میني تاو (پښتو ناول)
٥٧. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینیرانو(انجینرانو) له پاره
٥٨. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٥٩. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواره ملګري (پښتو ناول)
٦٠. د یوې میاشتې **ناوې** (پښتو ناول)
٦١. دخاڅکو هار (د یوه سړي لنډې کیسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانۍ)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواریکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانیو جوماتونو توپير د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېړه (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهید (پښتو ناول)
٧٤. توده برستن (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کار لاندې کتابونو لېست**

١. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد پنجم)
٢. نورک اکا (پښتو ناول)
٣. لیونی لپوه
٤. د خاورو لاندې بنار
٥. سپین کارغه
٦. سور تنور
٧. خړه بیزو
٨. بندي مرغه
٩. بې وخته باران
١٠. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

توده برستن

.................

**د امکان او وخت په صورت کې**

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Warm quilt

**Written by:** Architect PHD Hashmatullah Atmar

**Date:** June -July /2026

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**